ماشومانو مقدس کتاب

وړاندې کونکے

# خدائ پاک د ابراهیم مینه آزمائی (د ابراهیم امتحان اخلی)



لیکونکے: Edward Hughes

خیال: Byron Unger; Lazarus
Alastair Paterson

خوښونکے: M. Maillot; Tammy S.

ترجمه کونکے: Aim4Faith Ministries

مددگار: Bible for Children
www.M1914.org

©2024 Bible for Children, Inc.
تاسو دا قیصئ نقل کولے شئ یا چاپ کولے شئ خو دا خرڅولے نۀ شئ.





یوه شپه خدائ پاک ابراهیم ته حکم وکړو، او دا یو امتحان وو چې وګورى چې ابراهیم خپل زوئ سره د خدائ پاک نه زیاته مینه کوی.


خدائ پاک ابراهیم ته حکم وکړو. چې
خپل زوئ اسحاق روان کړه، او ما ته
یې د سوزېدونکې  قربانۍ په
توګه پېش کړه. د اسحاق
قربانی کول؟ د هغهٔ د زوئ
قربانی؟ دا د ابراهیم د پاره
ډېر ګران وخت وو ځکه
چې هغهٔ
خپل
زوئ سره ډېر
زیاته مینه کوله.
3


خو ابراهیم بیا هم په خدائ پاک
باندې یقین وکړو. او سحر وختی
هغه اسحاق او خپلو دوو نوکرانو
سره د غر په طرف روان شو.
4


د تلو نه مخکښې ابراهیم د سوزېدونکې
قربانۍ د پاره لرګی او بل سکار هم
واخستل. ابراهیم د خدائ
پاک فرمانبرداری وکړه
او د خدائ پاک اطاعت
یې وکړو.
5


درې ورځې وروستو هغوئ هغه
غر ته ورسېدل، بیا ابراهیم خپلو نوکرانو ته
ووئیل چې تاسو دلته پاتې شئ او مونږ
بره غر ته ځو او د خدائ پاک عبادت کوو بیا
واپس تاسو خوا ته راځو.
ابرهیم په اسحاق
باندې د قربان ګاه
لرګی یوړل او په خپله
یې بل سکارهٔ او
چاړهٔ واخستله.
6


اسحاق د خپل پلار ابراهیم نه پوښته
وکړه چې د قربانۍ د پاره ګډورے
چرته دے؟ نو ابراهیم ورته په جواب
کښې ووئیل چې خدائ پاک به په
خپله د ګډوری
بندوبست
وکړی.
7


هغوئ دواړه هغه ځائ ته ورسېدل کوم ځای چې
ورته خدائ پاک ښودلے وو. هلته ابراهیم یو
قربان ګاه جوړه کړه او لرګی یې پرې
سم سم کېښودل. ابراهیم مخکښې هم
ډېر قربان ګاه جوړې کړې وې
خو د قربان ګاه د ابرهیم د پاره
ډېره ګرانه
وه.
8


ابراهیم خپل ګران او خوږ زوئ
وتړلو او په قربان ګاه باندې یې
کېښودو. واقعی چې ابراهیم د
خدائ پاک اطاعت کوی، او
خپل یک زوئ هم قربانی؟
9


آو! ابراهم د خپل
زوئ حلالو د پاره چاړه
را واخستله. کیدے شي چې
دغه وخت د هغهٔ زړهٔ مات
شوے وی، خو ابراهیم ته پته
وه چې هغه د خدائ
پاک اطاعت کوی.
(تابعداری کوی).
10


د خدائ پاک
فرښتې ابراهیم له
آواز ورکړو چې هلک
له څهٔ نقصان ورنهٔ
کړې. ما ته پته ده
چې تهٔ د خدائ پاک
نه یرېږې. ځکه
چې تا خپل یک
یو زوئ هم
ما ته پیش
کړو.
11


ابراهیم څهٔ ګوری چې یو ګډ
په جاړو کښې انښتے دے،
نو هغهٔ خپل زوئ اسحاق
پرانیستو او د هغهٔ په ځائ
یې هغه ګډ حلال کړو.
12


کېدے شی چې هغه وخت
اسحاق دا سوچ کولو چې
څنګه زما پلار وئیلی وو
نو خدائ پاک هر څهٔ هم
هغه شان وکړل.
13


چې کله پلار او زوئ مالک خدائ ته سجده وکړه او د هغهٔ
عبادت یې وکړو. نو د مالک خدائ فرښتې ابراهیم ته
وفرمائیل چې مالک خدائ فرمائی چې ستا د
نسل په وسیله به ټولو قومونو ته برکت ملاو
شی. ځکه چې تا زما خبره ومنله. یوه ورځ
به عیسی هم د
ابراهیم
په اولاد
کښې پیدا
شی.
14

ابراهیم او اسحاق کور ته واپس راغلل. څۀ موده ورسته
یوه ډېره د خفګان نه ډکه واقعه راپېښه او هغه دا وه چې
ساره مړه شوه. نو ساره د خپل خاوند ابراهیم او
د خپل زوئ اسحاق نه جُدا شوه.



15

د ساره د مرګ نه پس
ابراهیم خپل یو نوکر
ولیږلو چې د اسحاق د پاره ښځه وګوری.
نوکر خپل زوړ وطن ته د ابراهیم خپلوانو
کره لاړو.



16

نو بیا نوکر د اسحاق د پاره د ښځې کتلو له د ابراهیم راشته
دارانو کره هغه پخوانی وطن ته لاړو. نوکر د خدائ نه یوه
نښه وغوښتله او هغۀ ووئیل چې کومې جینۍ زما اوښانو له
اوبه ورکړې نو هغه به هم هغه جینۍ وی څوک چې به د
اسحاق ښځه جوړیږی.



17

نو ربقه چې د ابراهیم په رشته دارانو کښې یوه وه، هغې
اوښانو له اوبه ورکړې. نو نوکر په دې پوهه شو چې خدائ
پاک هغۀ له د هغۀ د دعا جواب ورکړو.



18

ربقی اسحاق سره د وادۀ کولو د پاره خپل خاندان پرېښودو.
او هغې د اسحاق د مور د مرګ نه پس اسحاق له تسلی
ورکړه. او اسحاق ربقې سره مینه وکړه.



19

خدائ پاک د ابراهیم مینه آزمائی
(د ابراهیم امتحان اخلی)

دَ خدائ په کلام په مقدس کتاب کښې دا قیصئ

شته دے

پېدایښت ۲۲-۲۴

"ستا دَ خبرو تشریح نُور بخښی ـ"
زبور 130:119

20




5

60



دا قیصئ مونږ ته زمونږ د حیرانونکی خدائ په باره کښې ښودنه کوي چې چا مونږ پیدا کړو او چې څوک غواړی چې هغه مونږ وپیژنو.

خدائ پوهیږی چې مونږ ډیر علط کارونه کړی دی، چې هغې ته هغه گنا وایې. د گنا مزدوی مرگ دے خو خدائ مونږ سره ډیره مینه کوې نو ځکه هغهٔ خپل یک یو زوئ راولیږلو چې هغه زمونږ د گناهونو د خاطره سزه وزغمې او په سولئ خپل ځان قربان کړې.او بیا عیسی د مړو نه ژوندے شو او آسمان ته لاړو. کهٔ تهٔ په عیسی باندې ایمان راوړې او د هغهٔ نه د خپلو گناهونو بخښنه غواړې نو هغه به تا ته بخښنه وکړې. هغه تا خواته راځی او ستاسو دننه به استوگنه کوی او تهٔ به هغه سره د همیشه د پاره ژوندے اوسیږی.

کهٔ تهٔ په دې ایمان لرې چې دا رښتیا دی نو خدائ ته ووایه.خوږه عیسی زهٔ ایمان لرم چې هم تهٔ خدائ یې. تا زما د خاطره پیدا شوې او زما د خاطره مړ شوې او اوس تهٔ د تل د پاره ژوندے یې. زما په ژوند کښې راشه او زما گناهونه وبخښه، چې زهٔ هم د نن نه ژوندون وموومم او د همیشه د پاره تاسره یم. زما مدد وکړه چې زهٔ ستا تابعداری وکړم او ستا زوئ یا لور جوړه شم. آمین
مقدس کتاب ولولئ او خدائ سره روزانه خبرې وکړئ، یوحنا۳:۱۲